برادر مسلمان ! مردان بزرگ جهان که باین همه فتوحات واختراعات واکتشافات وافتخارات دست یافتند وحتي بر جهان چهره ومسلط گردیدند مفت ورایگان نبود . بلکه محصول زحمات وقت شناسي شان بوده است ، که تذکر دوران محنت شان در صفحات مانمي گنجد ودرمجموع تاریخ هم چرنمونه هاومثالهاست .

واي برادر ! درآخیرتوصیه ام این است که فرصت اندك را غنیمت بشماروتادرنهایت عمر حسرت وپشیماني را بارنیارد !

# اقوال زرين

* اگراشخاص باایمان فوایدبیماری رابدانند دوست ندارد که ازمریضي نجات یابد .
* اعمال نیك راگذشت زمان ازبین نمي برد .
* این چیزهاباعث غم درزندگي براي انسانهامیگردد :
۱- حب دنیا ۲- ظلم ۳- بدخلقي ٤- حرام خوردن ٥- دل شکستن ٦- ترك عبادت .
* اگرمیخواهید حافظه قوي داشته باشید ، همیشه عبادت کنید کم گوئي کنید – کم خوري کنید و کم خوابي کنید .
* احسان به اشخاص مضر جزتقویت ، ضررها ي ندارد .
* اگرصبرپیش ازبلاخلق نشده بود انسان شگافته میشود .
* اگربتوانیم برهوسهاي خود تسلط پیداکنیم تمام مشکلات برماآسانترمیشود .
* ازسخنان بیهوده وعبث دوري شود هر سخن وکلمه اي باید به نیت نیك بیان شود .
* ازنشستن میان دوشخص که قبلاًپهلوي یکدیگر نشسته اند دوري جوئید ، مگرآنکه ازآنها اجازه بخواهید .
* ازسخنانیکه به غرض خنده وخوشگذراني مردم ادامیشوند جداً اجتناب ورزید .
* ازسخنانیکه نمایانگر کبر ، غرور ونخوت باشد خودداري نمائید .
* ازبلندي آواز درحین سخن گفتن جلوگیري شود – بیانات هر قدر نرم وآرام باشد بهتراست .
* آب راباید همیشه بدست راست بنوشید .

گردآورنده م . ظاهر ، « ستانیزي »

# ملگري ملتونه يا د ځوملیتي کارټل تصوير «۱»

د جوزا د میاشتې په لومړیو کښې دملگروملتونود سرمنشي لخوا دافغانستان د مسئلي په اړه یوڅه فقره ایز پلان وړاندې شو اوپه دې ترځ کښې یې له مجاهدینو څخه داهیله څرگنده کړه ترڅو له هغه رژیم سره خبرې وکړي چې دروسانو د یرغل له پاتې شونوڅخه دی . که د ملگروملتونو د سولې پلان ته ښه ځیرشو نودې نتیجې ته رسیږو چې دغه طرحه د سترو قدرتونو په دستور جوړه شوې څویه دغه توگه په افغانستان کښې د یو اسلامي دولت د جوړیدو مخه ونیسي اوداسې دولت هلته قدرت ته ورسوي چې داستعمارگرانو د گټو ساتونکی وي .

له هغې ورځې نه چې ملگري ملتونه مینځ ته راغلي هیڅکله یې داسې اقدام نه دی کړی چې هغه کښې عملاً د مظلومانو طرفداري شوې وي بلکې دغه مؤسسه تل دا ستعماري هیوادونو لخوا دهغوی د سیاستونو دتطبیق له پاره د مهمې اجرایي وسیلې په توگه استعمال شوې ده .

که چیرې د ملگروملتونو ( ٤٦ ) کلن تاریخ ته په ځیرسره وگورونو دابه راته څرگنده شي چې دغې موسسې ترکومه حده پورې د سترو ځواکونو د گټوساتلو له پاره هلې ځلې کړې اوترکومه حده پورې یې په خپل منشوروباندې عمل کړی دی . دمثال په توگه دا دافغانستان د مسلمان ولس جهاد ۆ چې روسان یې له دغه هیواد نه وتلوته اړکړل نه د ملگروملتونو د امنیت شورې پریکړه لیکونو ، چې هغه به هم هرڅلې دروسانو لخوا ویتوکیدل . که چیرې په پریکړه لیکونو مظلومانو اومستعمره هیوادونو خپل حقوق لاس ته ورورلای شول نو دکشمیر اوفلسطین مسئلي به دغسې لاینحله نه وې پاتې . براخې د افغانستان ، کشمیر ، فلسطین او ... مسئلې نه دي چې په هغوکښې ملگروملتونو د مظلوم په طرفداری خپله ذمه واری نده ترسره کړې بلکې بیرې داسې پیښې دي چې دهغو په مکله د ملگروملتونو پریکړې پواځې د کاغذ پرمخ باقي پاتي شوي اود متجاوزینو اوسترو قدرتونو په وړاندې یې هیڅ اجرایی قدرت ندی درلودلای . خوکله چې چیرته د استعماری هیوادونو اوستروځواکونو گټې مضمري وي هلته بیا ملگری ملتونه اجرایی قدرت هم لري اوپوځي قدرت هم . لکه چې د کویت په مسئله کښې ټولوغربي استعمارگروهیوادونو لاسونه یوبل ته سره ورکړل اودعراق په مقابل کښې یې داسې گرندي پوځي اواقتصادي اقدامات ترسره کړل چې په بېړیکمه موده کښې یې دغه هیواد له پښو وغورزاوه اودرویزې ته یې کښیناوه . دا دملگرو ملتونو په تاریخ کښې لومړی ځل ۆ چې دغه نړیواله مؤسسه ددریمې نړۍ د یوه مسلمان هیواد په مقابل کښې داسې کلك اومتفق دریځ غوره کوي . داځکه چې په دغې جگړې کښې خاوره دمسلمانانو وه ، د جگړې مصرف دمسلمانانو ۆ اووینه د مسلمان پکښې توئیده . ددې له پاره چې وکړای شو دغه مسایل ښه وڅیرو د ملگرو ملتونو تاریخي پس منظرته یونظر اچوو اودهغه په ترځ کښې به وگورو چې ددغې مؤسسې په جوړښت کښې استعمارگروهیواکونو څومره رول لوبولی اوبیایې دهغې په عملي کرنلارو کښې څومره اغیزمن اقدامات ترسره کړي دي او کوي یې .

کله چې پانگه والي تولیدي تگلاره خپل وروستي پراوته ورنژدې شوه اومصرفي بازارونه هم د اشباع حالت ته ورسیدل نوسترتولیدي مؤسسوخپل واره سیالان د مختلفو تگلا_ په مخکښې نیولو سره د عمل له میدان نه خارج کړل . هغه وخت بیا سترسیالان د عملي بگر حریفان اود «سیالی » کرنلاره چې کولای یې شو په متقابل لوری کلکه ضربه وارده کړی ، د «مرستي » په سیاست باندې تبدیل شو . غټوشرکتونو د یوبل په مرسته « ځوملیتي کارټلونه » جوړاوپټ قراردادونه یې منعقد کړل . ددغو قراردادونو په اساس یوددبل موجودیت اومتقابله استفاده په رسمیت وپیژنده اودهرشرکت له پاره یې ځانگړې اوخاصه نفوذي حوزه په نظر کښې ونیوله .

په هرحال د کارټلونو د شتون فلسفه د کارټل د غړیوشرکتونو د اقتصادی ځواك پرینښت اودزیاتي گټې د لاس ته راوړلو په مخې اوهدف سره ، مینځ ته راغلي وه ، په دې لارکښې یې تشکیلاتی کارټلونه جوړکړل څوهغوی په راتلونکي کښې د احتمالي سیالانو اورقیبانو سره په مبارزه اود بازارونو د انحصاری حق په ساتلو اوهمدارنگه له هغوی سره د داخلي اختلافاتو په حل کولو کښې ، مرسته وکړي . داسې ترسترگو کیږي چې همدا اوس « د ملگرو ملتونو د امنیت شورا » له هرڅه نه وړاندې د ځوملیتي کارټل دتشکیلاتو یوې برخې ته ورته ده ، دغه تشکیلات هغه وخت مینځ ته راغلل چې نړیوالو ځواکونو دا احساس کړه چې دحریف د ټکولواوطردولو له پاره جگړه مخکښې له دې نه چې وکړای شي گټه له ځان سره ولري ، دهرطرف له پاره یې زیانونه اوخطرونه زیات کړل ، نوله دې امله یود بل مرستي اود متقابلو گټو په رسمیت پیژندلوته قانع شول ، تشکیلات یې مینځ ته راوړل څو له نړۍ نه د زیاتي گټې ترلاسه کولو له پاره هرنوی ځواك چې د سراوچتولو اراده ولري اوخپل حق وغواړي اوپه نظرکښې ولري چې د نړۍ دقدرت په اوسني ویش کښې زیاته ونډه په لاس راوړي ، وټکوي . له دې نه ورهاخوا سترقدرتونه وکړای شي له دې تشکیلاتونه په گټه پورته کولو سره هغه مسایل چې کله ناکله د دوی ترمینځ پیداکیږي ، حل کړي . په اوسني بین المللي سیستم کښې ، نړۍ په دوه برخو ویشل شوې ده ، یوډځواکونو د انحصاری نفوذ سیمې اوبل د ملگرو ملتونو د امنیت د شورې غیر انحصاری سیمې . امنیت شورې د غیر انحصاری سیمویه اړه د سترو قدرتونو داختلافو په پاره کښې د څیرواترو ځای دی .

د امنیت شورې د ماهیت د پیژندلو له پاره باید ددغسې مؤسسې د تیوری اوکړو وړه‌وه وجهې له نظره تیرې کړو . د ٢٤ مادې د لومړی بند په اساس : «دملگروملتونو د اغیزمن اوگړندي اقدام په منظورغړي هیوادونه ، د بین المللي سولې اوامنیت ساتنه د امنیت شورې ته سپاري » .

دغه اهداف اواصولاً د ملگروملتونو ټول اهداف ، د غښې اصولو په اساس تعقیبیږي چې له هغې جملې نه عبارت دي له : د ټولو غړیو مساوي حاکمیت ، د اختلافاتو سوله ایز حل ، د نوروهیوادونو د سیاسی خپلواکې اوځمکنۍ بشپړتیا په خلاف د ملگرو ملتونو د هرغړي له زور څخه د استفادې مخنیوی ، د ملگروملتوله له ټولنې سره د مربوطو چارو په سرته رسولو کښې د غړیو مرسته اوپه هغوچارو کښې چې ذاتاً د هیوادونو د صلاحیت داخلي جزء دی د ملگروملتونو د ټولنې نه دخالت . ملگروملتونو د امنیت شورې له ۱٥ غړیو څخه جوړه شوې چې (٥) غړی یې دایمي اود ویتوحق لري اوعبارت دي له : شوروی ، امریکا ، انگلستان ، فرانسه اوچین . له دغوغړیو هیوادونو څخه (۱۰) نورغړی یې چې غیر دایمي دي اود دوو کلونو له پاره «دهغوځانگړې جغرافیایي ویش ته په توجه سره » د ملگروملتونو د عمومي ټولنې په وسیله ټاکل کیږي .

امنیت شورې دهغو اختلافاتو د حل له پاره چې بین المللي سوله اوامنیت تهدیدوی ، خولاړې په مخکښې لرې چې په ترتیب سره هغه عملي کوي :

۱– ددې بررسي چې آیا یو اختلاف کیدای شي بین المللي سوله په خطر کښې واچوي .

۲– په سوله ایزه توگه د مخالفو طرفینو داختلاف د حل توصیه .

۳ – داسې اقدامات چې د پوځي ځواکونو څخه د کاراخیستلو متضمن نه وي له هغې جملې نه د شورې د تصمیمونو د اجراء کولو له پاره د سیاسي ، اقتصادي ، مخابراتي ، ترانزیتي او ... ټولو یا یوې برخې اړیکو متوقف کول .

٤– د ملگرو ملتونو د غړیو په وسیله دمحاصرې ، مظاهرو اوداسې نورو نظامي عملیاتو په بڼه پوځي اقدام .

دوه خصوصیتونه چې امنیت شورې – دهغې له اوسني جوړښت سره – مشخصه کوي : د(٥) غړیوهیوادونو دایمي والی اودغوه غړیو له لورې دویتو دحق درلودل دي . ددغو پنځو غړیو ددایمي والي د علت په هکله د پوهنتي په مقابل کښې ځینې په دې عقیده دي چې دغه هیوادونه دې چې د سولې د ساتنې توان لري اونړیوال امنیت به پرته له هغو هیوادونو چې زیات قدرت لري ، تامین نه شي . د ویټو حق هم په دغه توگه توجیه کیږي چې ، دا د بشریت په صلاح نده څود امنیت شورې د یوه ځواکمن هیواد پرخلاف تهري اوالزامي اقداماتونه لاس واچوي . ځکه چې ددغه کار پای به د نړۍ په سطحه د جگړې پیښیدل وي . که چیرې دویتو حق موجود نه وای بین المللي اړیکوته به په زیاته اندازه زیان رسیدلی وای . دغه امر د زیاتو ویتوگانو له شمیر نه ښکاریدای شي . یواځې د شلمې نورې ترعمومي ټولنې پورې شورویو ۱۰۳ ځلې دویتو له حق نه استفاده کړې وه . که چیرې دویتو حق نه وای ، معلومه نه وه چې په دغې موده کښې به په نړۍ کښې څه یول ناشونې پیښې مینځ ته راغلې وې . البته دهغو تجاوزاتو شمیر چې د شورې دایمي غړیو ( سترهیوادونه ) مرتکب شوي دي ددغه ټکي ښکارندوی دي چې دغو هیوادونو څومره کړای شوي دي چې نړیواله سوله اوامنیت تأمین کړي ! په دې هکله چې دویتوله حق نه پرته چې کله ملگروملتونو احتمالاً یکرم تصمیمونه نیول ، له یوسترقدرت سره په نښتو منتج کیدل ، آیا دا په واقعیت کښې دهمغه غرض نقض کول نه دي چې ملگري ملتونه اودهغه ارکان له هغه جملې نه د امنیت شورې ، اصولاً دهغه له پاره جوړ شوي دي؟ که چې یوسترقدرت د خپل لوی نظامي ځواك درلودلو په سبب – چې کولای شي په نړیواله سطحه جگړه مینځ ته راوړي – له دغې تگلارې نه غاړه وغړوي نوبه دې صورت کښې باید سترگې پټې کړو ؟ یاپه بل عبارت ملگري ملتونه په هغه صورت کښې چې سوله د سترو قدرتونو لخوا په خطرکښې ولویږي ، هیڅ کار نشي ترسره کولای . له دینه هاخوا دیرغلونو ، تجاوزاتو اوپراختیا غوښتنې له پاره قانوني اومشروع لارې هم پرانیزي .

امنیت شورې – یواځې د یوې حقوقي مؤسسې په توگه د بین المللي اختلافاتو په مسیرکښې ( که چیرې دغه اختلافات د شورې د دایمي غړیو ترمینځ ۆ ) عملاً هیڅ کاررمخ ندی بیولی . هغه څه چې ددغه یول لانجو د حل موجب شوي په لومړی سرکښې د ځواکونو توازن او له مشترك وړاني اوانهدام نه ویره وه اودغو هیوادونو د خصوصي اومحرمانه خبرو اترو په وسیله د اختلافاتو لرې کول ممکن کړی دي . اوپه دې ترځ کښې د ملگرو ملتونو

# یووالیه !!

« هدایت خرگیابي »

یووالیه ! ته ئی چې قومونه د منزل په لور
اود خپلواکۍ غیږې ته رهبری کوې
ته ئی چه د قومونو خلاصون
د قومونو سمون
اودقومونو د خپلواکۍ سباون دریورې تړلی دی
ته ئی چه د تاریخ په اوږدوگې
دولسونودیری دراز
اودفتحې د کلې په حیث پیژندل شوی ئې
یووالیه !
هرچاچې ستا څخه مخ اړولی
په مخ پریوتی
د ناکامۍ
نهستۍ
اوتباهۍ په دام کې ښکیل شوی دی
ته ئی چه په ټینگولودې قرآن امرکړی
دخدا درضا
اودمسلمانانو دغلبې عامل بلل شوی ئې
ته ئی چه د نړۍ ټول مسلمانان دریاندې
دیریدن په شان تمثیل اودیوځان اوپو
اندام په توگه گڼل شوی
یووالیه ! ستاپه راتللوسره
دښمنې
اختلافات
اوذات البینی ناخوالې کیږه باروي
اوټول په یوه لار دیومنزل درسیدوتاندوهی
له بده مرغه
خونن زمونږپه مینځ کې ستا دعدم موجودیت څخه دښمن گټه پورته کړي . دجهادی ځواکونو اوزمونږداسلامی پاڅون په ضد د ناوړه تبلیغاتودسرچینې په حیث ورڅخه استفاده کوی
یووالیه ! هم ته ئې چې نن
دجهاد په سنگر
اودسیاست په ډگرکې دې ترټولوزیات ضرورت احساسیږی
نوخدای دې هغه وخت راولی چې جهادی ځواکونه په پوره اخلاص سره په یوآواز
د یووالی ځرپورته کړي
اود شیطان د انهیوالانو « استعمارچیانو » ټولې ناوړه نقشې اوپلانونه شنې اود خاورو سره خاوری کړي .

# د تعهد ماتولو جرم ...

« دهغوی د خپلی وعدی ماتولولامله ۆ چې مونږ وریاندې لعنت وکړ له خپل رحمت څخه مولیرې وغورځول اودهغوزړونه موسخت کړل اوس دهغو دا حالت دی چې الفاظ له خپلو ځایونوڅخه تحریفوی اوسرچیه یې اړوی اوله یوډول خبرې نه بل ډول خبره جوړوی . کومه سبونه چې ورته شوی وه دهغې زیاته برخه یې هیره کړیده اوهره ورځ دهغوی یونه یوخیانت تاسی ته څرگندیږی » .

همدا یوځای نه بلکې د قرآن مجید په ډیرو ځایونوکښې د تاریخ ددې مختوری قوم یعنی یهودودنقض عهد اوژمنې ماتولو یادونه راغلې ده اوداکار دهغوی د ټولو جرمونو بنسټ اوجرړه معرفي شویده اودهرډول ذلت ، مسکنت ، خوارۍ اوبدبختۍ اصلی عامل اوموجب ښودل شویدی ځکه نوقرآن کریم محمدی امت ته دهغوی د حالت په بیانولوسره داپند ورکوی چې پام کوئ دهغوی پرلاره لاړنشئ کله چې له خدای اومؤمنانو سره تعهد کوئ اوپخپلوعهدونو باندی قسمونه خورئ نوپه هغوباندی ترپایه ټینگ ودریږئ اووفا وریاندې وکړئ .

د کومې خبرې توثیق اوتحکیم ته چې ترپل هرڅه زیات قرآن کریم مسلمانان دعوت کوی هغه خپل منځی اتحاد دی . اتحاد دخدای په دین اودخدای د شریعت په احکامویاندی ، فرمائی « ټول د خدای په رسۍ ( دین ) باندی کلکی منگولی ولگوئ اوپخپلو کښې اختلاف اوتفرقه مه کوئ » په بل ځای کښې فرمائی : « پخپلومنځوکښې شخړې اونزاع مکوئ چې بې جرئته اوبې زړه به شئ اوقوت به مو لاړشی » د سوره، الحشر په (١٤) آیت کښې د منافقانو حالت بیانوی فرمائی « ته گومان کوی چې دوی یوځای اومتفق دی پداسې حال کښې چې ددوی زړونه یوله بله بیزار اوبیل ، بیل دي» دا دمنافقانو د دویمی کمزوری بیانول دی ، لومړی کمزوری یې داوه چې بې زړه وو ، د خدای پرځای له انسانانوڅخه ویریدل اودویمه کمزوری یې داوه چې له منافقت نه پرته یې د تجمع اویوځای کیدلو بله نقطه نه درلوده . کوم شی چې هغوی راغونډم کړی وو هغه داۆ چې د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم اومسلمانانو ورځ په ورځ پرمختگ اود انصاروځوا د مهاجرینو خدمت کولو خپه کړی وو اوهلې ځلې یې کولې چې د انصارو اومهاجرینو په مینځ کښې د درزونو په ایجادولوسره د اسلام قوت کمزوری شی . له دغه منفی هدف نه پرته بل کوم مثبت شی نه ۆ چې دهغو دراټولوځای کیدو سبب گرځیدلی وای داهم یوه ظاهری خبره وه . له دی نه هاخوا د هرمشر ډله بیله وه ، هریوه خپله ترابی غوښتله ، هیڅ یو د بل مخلص دوست نه ۆ بلکې د هریوه په زړه کښې د بل له پاره د حسد اوبغض لمبې بلې وې . له دی کبله الله تعالی مسلمانانوته پام ورکړچې کله داخلك پخپلو کښې قلباً یوله بله بیزاره دی نودوی له یهودو سره په لاس یوکولو کله متحد کیدلای شی ، تاسی د دوی څخه د خطر احساس مکوئ .

# عملیات مؤفقانه مجاهدین درولایت غزني

آمریت مخابره ١٤١٢/١/١٢

گذارشات واصله ازولایت غزني حاکیست که مجاهدین قهرمان وکفرستیز آنولایت بتاریخ ٢٤ سرطان میدان هوائي غزني ، بونت روسها ، فرقه ١٤ ، پوسته هاي کمربند شهرغزني و قریه مغلان را شدیداً تحت آتش توپ و سلاح هاي ثقیله خود قراردادند که در نتیجه آن پوسته هاي دشمن خساره مند گردیده ، پنج تن ازعساکر وصاحب منصبان رژیم هلاك و عده ، زیادي زخمي گردیدند .

راپور میافزاید درین عملیات یك تن صاحب منصب و یك نفر عسکر رژیم زنده دستگیر مجاهدین گردیده است . برعلاوه ازآن یك میل کلاشینکوف بدست مجاهدین غنیمت گرفته شده است .

# اسرائیل به اسکان بیشتر یهودیان درسرزمینهاي اشغالي ادامه میدهد

بیت المقدس – ٥ اسد

اسرائیل درقلمروهاي تحت اشغالي ساحل غربي وباریکه ، غزه دریك پروگرامیکه قبلاً اعلام نه شده بود براي تشویق اسکان یهودیان اراضي را به یهودیان میدهد .

وزیر دفاع اسرائیل به موجودیت این پروگرام بعد ازآن اعتراف نمود که روزنامه دوار چاپ اسرائیل روز جمعه گزارش داد که حکومت به باشندگان یهود درقلمرو هاي تحت اشغال ازچند ماه به اینطرف زمین را به طور رایگان توضیح کرده است نطاق وزارت دفاع اسرائیل نه گفت که چند قطعه زمین تعمیراتي توضیح شده است . وي ازتوزیع رایگان زمین دفاع کرده گفت این پروگرام تنها براي ساحل غربي نبوده بلکه درقسمت هاي کم نفوس اسرائیل چو گلیلي وصحراي نجف نیز تطبیق شده است . این سیاست اسرائیل افزایش چشمگیري که درمصادره اراضي فلسطینیها توسط مقامات اسرائیل گزارش داده شده همزمان میباشد .

### د جهاد پوهنتون په انګړکښي ...

ځکه چي هغه زموږ د پوهنتون ملیون شهیدانو قاتل دي .

موږ به په افغانستان کښي له اسلامي نظام نه پرته په بل هیڅ ډول حکومت باندي قانع نشو اود اسلامي نظام د قایمېدو پواځني لاره د جهاد دوام دي موږ به دغه هدف ته دروسېدلو لپاره مسلح جهاد ته ادامه ورکړو .

محترم حکمتیار د خپلي وینا په ترځ کښي د منتخبي شوري اومنتخب دایمي حکومت تر راتګه د پوي کم شمېره شوري اومؤقتي قوي اداري په جوړېدوهم موافقه ښکاره کړه زیاته یې کړه : موږ که تراوسه د انتخاباتوپه پروژه ټینګارکاوه خواوس کولای شو چي له خپلي مخکښني غوښتني څخه تېرشو اود شوري د جوړېدو په هکله کومي بلي طرحي ته غاړه کېږدو هغه داسي چي د لاندي څخه د شوري د جوړولو کارشروع شي یعني له ولسوالیونه تر ولایاتو اوله ولایاتونه ترمرکزه ملت خپل نمایندگان وټاکي چي په نتیجه کښي د یوې قوي شوري تشکیل وکړي

# کویت صادرات نفت خودرا ازسرگرفت

صداي امریکا – ٦ اسد

براي اولین بار پس ازتهاجم تقریباً یکسال قبل عراق برکویت ، کویت صادرات نفت خودرا دوباره شروع کرد

یك کشتي نفت کش حامل تقریباً دوملیون بشکه نفت دیروز یکشنبي ازبندمینا ، الاحمدي عازم غرب شد .

وزیر نفت کویت میگوید جنگ خلیج براي آنکشور ازنظر عواید نفت برحدود هفتاد وپنج هزار ملیون دالر تمام شده است . قابلیت کویت براي صدور نفت درطول جنگ صدمه ، شدیدي برداشت زیرا عساکر عراقي صد ها چاه نفت کویت راآتش زدند .

# یك هیئت جدید مفتشین ملل متحد وارد بغداد گردید

صداي امریکا – ٦ اسد

یك هیئت جدید مفتشین ملل متحد وارد بغداد شده است تادرمورد پروگرام ذروي عراق معلومات مزید بدست آورد .

این هیئت که چهارمین هیئت مفتشین ملل متحد است و ازعراق بازدید میکند مدت دوهفته در عراق باقي خواهد ماند تا راجع به طرح تولید جدید یورانیوم قابل استفاده براي اسلحه ازجانب انکشور معلومات جمع آوري کند .

ایالات متحده تهدید کره است که اگر عراق به نگهداشتن پروگرام ذروي خود ادامه بدهد تأسیسات ذروي باقي مانده وعراق رابمباري خواهد کرد .

ازجانب دیگر صدام حسین رئیس جمهور عراق کشورهاي غربي رابري ادامه تعزیزات علیه کشورخود تقبیح نمود .

# دایران دبهرنیو چارو وزیر دیودرې ورځنی سفرلپاره پاکستان ته راغی

بي بي سي دزمري ٧

دایران دبهرنیو چارو وزیر داکتر علي اکبرولایتي په یو دري ورځني سفر پاکستان ته رارسېدلي دي اوهڅه کوي چي دافغانستان لانجي ته دیوه سیاسي حل کومه لاره پیداکړي .

نوموړي به په پاکستان کښي دافغانستان دمسئلې په اړوند دغه هیوادله جمهور رئیس غلام اسحق خان ، صدراعظم نوازشریف اودبهرنیو چارو دوزارت لمسئولو مقاماتو اود مجاهدینو لمشرانو سره لیدنه کتنه وکړي . ربوټ زیاتوي چي ولایتي به دپاکستان له حکومت څخه وغواړي چي د افغانستان دمجاهدینو دبیلابیلو تنظیمونو ترمینځ وحدت اویووالي راولي .

# بوریتس ایلتسین فعالیت هاي حزب کمونیست را درمؤسسات ودوایر دولتي غیر قانوني اعلام کرد

بوریتس ایلتسین رئیس جمهور فدراسیون روسیه فرماني را مبني برمنع فعالیت هاي حزب کمونست در مزارع ، کارنجات ومؤسسات اعلان نموده است . این فرمان سرازتاریخ (٥) اگست به اجرا درمیآید .

فرمان ایلتسین ازطرف وزارت داخله ، دستگاه (K.G.B) وکمیته مرکزی حزب کمونست روسیه رد گردیده است . دفتر مرکزي حزب کمونست ازگورباچوف رئیس جمهور شوروی تقاضا نموده است تا این فرمان را باطل اعلان نماید .

ایلتسین این انتقادات را رد نموده و میگوید که این فرمان ازطرف متخصصین قانون تهیه شده است .

وباضافه نموده است که بین او وگورباچوف علناً کدام نزاع موجود نیست

# گورباچوف خواستار تغییر درتیوری مارکسیزم ولیننزم گردید

میخائیل گورباچوف رئیس جمهور شوروی در اجلاس کمیته مرکزی حزب کمونست درخواست نموده است که باید حزب کمونست تیوری مارکسیزم ، لیننزم راترك بگوید تا در آینده برای بقای خود زمینه سازی کرده باشد گورباچوف اضافه نموده است که حزب کمونست ازنقش تاریخی خودمنحیث رهبرطبقه کارگردست بردارد ونقش سوسیال دیموکرات ها را بازی نماید .

گورباچوف به ادامه سخنان خود افزوده است که درطول دوسال گذشته حزب کمونست (٤) ملیون اعضای خودرا ازدست داده است ، وبغرض نام حزب کمونست باید جلسه فوق العاده کنگره دایرشود ، طبق اظهارات ناظران سیاسی هدف ازبرنامه گورباچوف برداشتن مارکسیزم لیننیزم است .

عکس العمل اولیه حزب بعد ازاظهارات گورباچوف نسبتاً ملایم بوده اما جناح تند روان حزب کمونست ازین برنامه جدید انتقاد شدید نموده اند .

### در ناآرامیهای ...

اردوي فدرال بیشتر ازبیست نفر هلاك شده اند . وطبق آخرین گزارش هاي طیارات اردوي فدرال تعدادي را درنزدیکي شهره ایلوك ، کرویشیا بمباردمان کرده است .

ازسوي دیگر ریاست جمهوري دسته جمعي یوگوسلاویا یك آتش بس عاجل را درجمهوري جدائي طلب کرویشیا درتلاش براي جلوگیري ازیك جنگ داخلي تقاضاکرده است .

رهبري یوگوسلاویا طي اعلامیه اي گفت یك آتش بس شرط عمده براي حل سیاسي بحران کشورمیباشد . این اعلامیه در خلال گزارش هاي مبني برجنگ هاي تازه بین قواي امنیتي کرویشیا ومبارزین صربیا نشرشده است .

### مصر واردن . . .

قبلاً پذیرفته است . اردن همچنان میگوید یك هیئت مشترك اردني وفلسطیني را درکنفرانس صلح پیشنهاد شده قبول خواهد کرد . مشروط برآنکه سازمان آزادي فلسطین به این مفکوره موافقت کند .

### ملګري ملتونه یا ...

رول یواځي همدومره ؤ چي ددغو پټو اومحرمانه خبرواترو ځای ؤ . له دغي جملي نه کولای شو د کیوبا مسئلي ته اشاره وکړو چي یواځي د لویدیځ اوختیځ ترمینځ په یوه معامله کښي پای ته ورسېده .

یا د هنګری ، مجارستان ، په مسئله کښي . ددی له پاره چي دغه سیمه دروسانو د انحصاری نفوذ سیمه ګڼل کېده اود شوری ټول پریکړه لیکونه د شوروي لخوا ویټوشول څرنګه عملي توګه هیڅ اقدام سرته ونه رسېده . د افغانستان د اشغال موضوع هم په همدی ډول دشوروی لخوا کال په کال ویټو کیده . د ویتنام دعسکرو ، دروسانو په حمایت – په وسیله دکمبوډیا اشغال د پای ته رسولو هڅوهم کوم ځای ونه نیوه . که چیری دغه اختلاف د امنیت شوری د دایمی غړیو څخه

دیوستر هیواد اوبل کمزوری هیواد ترمینځ پېښه نیولی وي ، امنیت شوری هیڅکله ندي کړای شوی د کوچنیو هیوادونو له پاره په څه حق قایل شي ، بلکی برعکس د ځواکمنو هیوادونو نامشروعو کړنو ته یې قانونی وجهه هم ورکړی ده . له هغي جملي نه کولای شو د امریکایي یرغملیانو په باب د امریکا اوایران اختلافاتو اود ایران محکومولو ، د فرانسي په وسیله د الجزایر د مسئلي نطرحی د خپرنی ویټو ( چي د ځینو آسیایي اوافریقایي هیوادونو لخوا شوري ته وراندی شوی وه ) ، د انګلستان اوفرانسي په وسیله د سویز دکانال په مسئله کښي ، د مصرپرخلاف د زورنه اعمال ، د طرحي ویټو اوداسی نورو پیروموارد څخه یادونه وکړو .

اوکه چیری دغه اختلافات دشوری دغیر دایمی غړیو ترمینځ وی اود ستروقدرتونو ګټي د مناقشي په یوی خوا یا دواړو خواوو کښي مضمري وي نو مسئله بیا د پخوانیو حالتونو بڼی ته ورګرځي او هیڅکله د مشکل د عادلانه حل تصور نشي کیدای . مثلاً د عربو اواسرائیلو په لانجه کښي شوری هیڅکله په دي بریالي نشوه چي د اسرائیلو له تیریوڅخه مخنیوی وکړي اوحتی ځینی وختونه یې لا دغه هیواد تیریوته دمشروعیت جامه هم وراغوستي ده اودا کار یواځي اویواځي د آمریکاپه وسیله د اسرائیلو له ملاتړنه سرچینه اخلي . همدارازپه جنوبي افریقا کښي د نژادی توپیر په هکله د امنیت د شوری پریکړه لیکونه لاتراوسه تر پښو لاندي کیږی داځکه چي غربي هیوادونه په مستقیمه اوغیر مستقیمه توګه له جنوبي افریقا نه ملاترکوی .

شوری یواځي په هغو مواردو کښي هغه هم په نسبي توګه د اختلافاتو په لری کولو کښي بریالي شوي ده کوم چي دغه اختلافات د ستروقدرتونو له ګټونه لری اود امنیت شوری د غیردایمی غړو په ارتباط وي . له هغي جملي نه کولای شو د « قبرص » او « ایریان » مسئلي د بیلګي توګه بیان کړو . د قبرص په مسئله کښي د امنیت شوری یواځي دومره وکړای شول چي د یونان اوترکیي اختلافونه په نسبي ډول حل کړي . اود « ایریان » په مسئله کښي شوری په دي بریالي شوه چي د هالند له مخالفت سره سره دغه سیمه په اندونیزیا پوری وتړي او د یونیسیبي عادلانه حل په وسیله ددغو دوهیوادونو اختلافات حل کړي .

پاتی لری

**توضیح :**

(١) کارټل : د محصولاتو دنرخ دثابته ساتلو له پاره د لویو اقتصادي مؤسسو پرقراردادنو ولاړ یووالی .

### فریادی از ...

شوروی سرحد افغانستان راعبورکردم ودرجهاد ضد طغیان کمونیزم والحاد وظلم روسها اشتراك نمودم ووقت بازگشتم بسوي تاجکستان گرفتارشدم و حالا دوران قید خودرا در زندان سیاسي (پیرما) سپري مینمایم ، ودراینجا با ما عده ئی ازیهودان نیز زنداني هستند ، که ازالطاف وتعاون یهودان دنیا برخورداراند وحتی علیه من بایهودیت وکفرستان مباهات وافتخارمیکنند و میگویند اگریهود مییودی ماکاری برایت میکردیم وفعلاً مذاکراتي در رهائی آنها جریان دارد .

برادران مسلمان !

امیدوارم مرافراموش نکنید وفشار خودراعلیه روس ها ادامه بدهید . تا مرارها سازند . برادران مجاهد افغانم ، برادرم سیاف ... وبرادرم حکمتیار و برادران وزعمای جهاد افغانستان امید که مراوقتی تبادله اسیران درآینده فراموش نکنید

برادران وخواهران فلسطیني ام خدا شمارا اجروبرکت بدهد بخدا قسم است که دوست داشتم که خون خودرا ازشما بیشتر در راه اسلام و آزادی فلسطین بریزم . امید است دررهائی من بکوشید .

آدرس زندان : ( پیرماسکایاویلیت / چوسوفسکی رایون / استیشن فیسیفیاتکایا٬/ مؤسسه ب / س ٨٩ / ٣٥ دولتوف عبدالحمید ) « میدیا »

### شکنجه وفشار

حرکات و سکنات خود التزام نمایند وازنهج اصیل إسلام که پیامبرخدا صلي الله علیه وسلم و أصحاب کرام رضوان الله علیهم أجمعین درتغییرمنکر برآن رفتارنموده پیروي نمایند ، ودر روشني ارشادات ورهنمود هاي علماي خویش عملکرد نموده و جهت ازبین بردن إختلافات سعي بخرج دهند ، وازصبروثبات درپیمودن راه ناهموار وپرخطرکاربگیرند .

ما ازخداوندمتعال که پروردگار عرش عظیم است دعا نموده تاانها را درحفظ ورعایت خویش قرارداده درامان خود نگهدارد ، وما وانها را در راه مستقیم جهت نجات امت عزیز جمع نماید .

### گسترش جنبش ...

پولیس وبنیادگرایان الجزایر بالغ بر ٥٠ نفر کشته شدند . شاذلي بن جدید رئیس جمهور الجزایر دولت کشور را ازکار برکنار کرد وهمچنین بربپائي نخستین انتخابات آزاد اززمان استقلال این کشور ازفرانسه درسال ١٩٦٢ را به تعویق انداخت .

مقامات تونس درماه جاري ٣٠٠ نفر را به اتهام توطئه براي سرنگوني زین العابدین بن علي رئیس جمهور این کشور واستقرار یك حکومت اسلامي درتونس بازداشت کرد .

« حسین » پادشاه اردن درتاریخ ٩ جون یك قانون اساسي جدید را اعلام کرده که هدف ازین کارتاحدودي احیاي احزاب چپگرا بمنظور ایجاد توازن بابنیادگرایان اسلامي که درانتخابات اخیر پارلمان بزرگترین گروه راتشکیل داده اند بوده است .

این امیدها که جنگ خلیج فارس موجب بروزاصلاحاتي لیبرال دررژیم سرسخت عربستان سعودي خواهد شد همگي نقش برآب شده اند . مسلمانان محافظه کار با تهیه ، طوماري ازملك فهد خواسته اند که شوراي مشورتي پیشنهادي بر اساس موازین اسلامي تشکیله شود .

دادگاه هاي اسلامي صدور احکام مربوط به سرزدن درملاء عام راازسرگرفته اند .

جنبش بنیاد گراي « حماس » باجلب هزاران تن ازجوانان فلسطیني دراراضي اشغالي بسوي خود ، به مبارزه باسازمان آزادیبخش فلسطین برخاسته اند . فـــا

# مجاهدینو په پکتیا کې د کابل رژیم یوه نوې ځای په ځای شوې پوسته فتح ، اوشپږ تنه عسکریې ژوندي نیولي دي

مجاهدینو د جولای په ١٩ نیټه دتیري کنهاؤ پرپوستود درندو وسلو څخه په استفادی سره برید وکړ چې دهغي په نتیجه کې د کابل رژیم دقواؤیوه پوسته فتح . ١ تنه عسکر اوملیشه مړه یوشمیرټپیان اوشپږتنه نورئی ژوندی نیول شویدی .

ربوټ زیاتوی چې مجاهدینوپدی جګړه کې درژیم له عسکرونه ١٤ میله کلاشینکوفونه دیوې اندازې مهماتوسره ولجه کړیدی .

همدارنګه مجاهدینو په ١٨ نیټه په نوموړی سیمه کښی درژیم پرقواوپولې عملیات ترسره کړل چې دهغې په اثر١٦ تنه عسکراوملیشه وژل شوی اویوشمیرنورئی ټپیان اوهم درژیم قواؤته درانده مالی تاوانونه اوړیدلی دی « میدیا »

### د کابل رژیم قواؤد جلال آباد ...

خبر ځاي زیاتوي چې مجاهدینو ددغو وحشیانه بریدونو په مقابل کښي خپل مقاومت ته په سختي سره دوام ورکړي اوجګړه دواړو خواؤ ترمینځ دوام لري .

په یوبل خبرکي ویل شویدي چي مجاهدینو اودرژیم دقواؤ ترمینځ دسروبي نه ترکابله پوري دلوئي لاري په اوږدوکي دجولاي په ٢٧ نیټه له سهار نه جګړه پیل شوې ده .

ربوټ زیاتوي چې دمجاهدینو اوکابل رژیم دقواؤ ترمنیځ دکابل ښار په لرختیزه لس کیلومتري دبت خاك دملنګ په سیمه کښي دجولاي په ٢٨ مه نیټه دسهار لخوا سخته جګړه روانه وه .

دخبر مطابق درژیم قواؤ داوراګان توغندیو په ویشتلو علاوه خپلي هوائي بمباري جاري ساتلي چي دتلفاتو په هکله تراوسه ربوټ ندي ترلاسه شوي .

( میدیا )

### مجاهدینودهرات ...

خبرځای دیبل ربوټ مطابق زیاتوی چی مجاهدینو د بلي خوا ددغي ذکرشوی ولسوالۍ نږدی قرارګاه کی یوانه سلنډره په مهماتو بارموټر ددوه تنو عملی سره د راکټونوپواسطه ۀمنځه وړی دی .

دغه شان مجاهدینو دزنده جان دملك قلعه شاوخواکی د رژیم دقواوڅخه د راکټی بریدونو په ترځ کی ٦تنه پلویان وژلی او١٢ تنه نورئی سخت ټپیان کړیدی .

### حالات خطیر و ...

وطلاي سرخ وسیاه ونقید وورقهاي پولي کلدار دولار ، ربل ، ریال ونقود که خاصه ، قارون صفتان وکافران است خوداري ورژیم وفقط تحت اعتدال ونظام الاوقات اسلامي ازدنیا فقط استفاده مشروع وقابل هضم وحلال نموده وازخیانات وتجاوز درحقوق دیگران جداً مجتنب باشیم ، ازینجاست که اگر ترفر وتجمل ذخارف دنیا برسرنوشت ماکاري گردد وراه وهدف اصلي وآرمان نهائي ما دراثر تلاطم وتداخل عوامل کائنه داخلي وخارجي ناشي ازآن غبار آلود وتیره وتارشود آینده تکبت بار وعواقب وخیم درانتظار ماخواهد بود .

پروانه هاي شمع توحید خداوندي وامتیان ایثارگر شریعت محمدي ( ص ) درین مواقع حساس تاریخ ولحظات خطیر که امواج ظلماني بحر کفر وشرك زورق نجات مارا تهدید میکند رسالت ایماني ومکلفیت اسلامي دارند تادست بمبارزه ، کامل عیار درطرد ودفع آشوب هاي پیدا وپنهان دشمنان دین وعقیده برخیزند ودر وحدت صفوف وحدت جهاد برگروههاي کفر والحاد شمشیر جهاد رابیشتر ازپیش تیزتر سازند ، عناصر فرومایه خلق وپرچم ، باندیست هاي ملحد مائویسم وکپیتالیزم ورادیکالیزم جناح هاي مسیحیت ویهودیت وسایر احزاب ملت پرست ووطنپرست ونشنلستگرا راموقع فعالیت وسخن راني درهیچ محافل ومجامع ندهند ازنشریه هاي عناصر واحزاب ضد اسلامي مراقبت جدي بعمل آورند تا بادست اتحاد لانه هاي کفري والحادي شبادان باطل رادر محیط هجرت کشف وآتش زنیم وصف مقاومت رابصفت چندي راه حق چون آغازین دوران قیام دوچندان مستحکم واستوار متشکل سازیم

### دوردګو ...

دخبرمطابق په دغه جګړه کی دمجاهدینو اوکلی والو څخه ٥٤ تنه شهیدان او ٧ تنه نورټپیان شوی دی .

( میدیا )

# بدنبال ولسوالی ...

درتسلط رژیم است که درحال حاضرتحت فشارشدیدمجاهدین قراردارد .

لازم به تذکراست که با سقوط ولسوالی رستاق که در ٢٥ کیلومتری سرحد روسیه و ٢٥ کیلومتر دور ازولسوالی خواجه غار قراردارد یکی ازمراکز عمده ومدافع قوای رژیم کابل درولایت تخار ازبین رفته ورفت و آمد مجاهدین بین ولسوالی های این ولایت کاملاً آزاد گردیده است .

همچنان بدنبال فتح ولسوالی خواجه غار ، سقوط علاقه داری زیباك وولسوالی های اشکاشم ، چاه آب ، رستاق و دشت قلعه ، ازپیروزی بزرگ مجاهدین است که ظرف یك ونیم هفته بصورت پیهم اتفاق افتاده است .

« میدیا »

پته :

پیښور - پاکستان

P.O.BOX---- 467